# يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلَى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ إِذَا هُوَ نَامَ ثَلَاثَ عُقَدٍ يَضْرِبُ كُلَّ عُقْدَةٍ عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيلٌ، فَارْقُدْ

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلَى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ إِذَا هُوَ نَامَ ثَلَاثَ عُقَدٍ يَضْرِبُ كُلَّ عُقْدَةٍ عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيلٌ، فَارْقُدْ، فَإِنِ اسْتَيْقَظَ فَذَكَرَ اللَّهَ، انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَإِنْ تَوَضَّأَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَإِنْ صَلَّى انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَأَصْبَحَ نَشِيطًا طَيِّبَ النَّفْسِ، وَإِلَّا أَصْبَحَ خَبِيثَ النَّفْسِ كَسْلَانَ». «کله چې ستاسو څخه يو څوک ویده شي نو شیطان يې د سر شاته برخې ته درې غوټې ورکړي او له هرې غوټې سره ورته وايي چې مخې ته دې لویه شپه ده نو ویده شه، که چېرته راویښ شو او الله تعالی يې یاد کړ، نو یوه غوټه يې خلاصه شي، او که اودس يې وکړ (بله) غوټه يې خلاصه شي او که چېرته يې لمونځ وکړ بله غوټه يې خلاصه شي، نفس يې پاکیزه او تازه شي، که نه نو په داسې حال کې به پرې سبا شي چې تمبل او مردار نفس لرونکی به وي.»

[صحيح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی)]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د شیطان حالت او د هغه چا سره د مبارزې په اړه خبر ورکوي چې غواړي د شپې یا سهار لمانځه لپاره پاڅېږي. نو مؤمن انسان چې کله ویده شي، شیطان يې څټ یعنې: د سر شاته برخې ته درې غوټې ورکړي. کله چې مؤمن له خوبه راویښ شي او د الله جل جلاله ذکر وکړي او د شیطان وسوسې ونه مني؛ نو یوه غوټه خلاصه شي. او کله چې اودس وکړي دویمه خلاصه شي. ... او که پاڅېده لمونځ يې وکړ دریمه غوټه هم خلاصه شي، نو تازه او پاکیزه راپاڅیږي، او خوشحاله وي پدې چې الله تعالی د بندګ توفیق ورکړ، او پدې چې الله تعالی ورسره د اجر او بخښنې ژمنه کړې ده، سربېره پر دې د شیطان له غوټو او تړلو يې هم خلاص کړ، که نه نو مردار به پروت وی، زړه به يې خفه و او د خیر او نیک په کارونو کې به سست وی؛ ځکه چې د شیطان په زنځیرونو تړلی او د رحمن ذات له نږدې کیدو به لرې وی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3731